وهمچنان شماراامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

٤ صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نصرمن الله وفتح قريب

الله اکبر الله اکبر الله اکبر

فرمان الهي

واقعيت اينست که ملامت وسرزنش متوجه کسانيست که بناحق برمردمان ظلم ودرروي زمين فساد مينمايند، اين گروه راعذابيست دردناك . والبته هرآنکه صبرکندودرگذرد ،درحقيقت اين شيوه ازامورېزرگ است.
سوره الشوري ـ آيتين ٤٢ـ ٤٣

شماره مسلسل (٤٩٨) سال پانزدهم شماره (٤٤) سه شنبه (٢)سرطان ١٣٧١ ه ش (٢٣)ذي الحجه ١٤١٢ هه ق (٢٣) جون ١٩٩٢ م

داسلامی حکومت ترجوړيدوبه خپل جهادته ادامه ورکوو

په کابل کي مجاهدين خلع سلاح کيږي خوکمونستانو ته وسله ورکول کيږي

مورد منتخب اسلامي حکومت غونبتونکي يوجي نشي شيعه ،ازبك ،تاجك ، هزاره اوپښتون ټول يکبني مساوي حقوق لري

مجددي هيڅ واك نلري ، په کابل کي اوس هم دکمونستانو حکومت دي

گرديز دجوزا ٣٠ مه - انا
دحزب اسلامي افغانستان مجاهداميروروحکمتيار دپکتياولايت په مرکزگرديزکي دپکتياله مجاهدولس څخه وغوښتل چي ترهغوخپله وسله په ځمکه کينږدي ترڅوچي په افغانستان کي دکمونستانوټول پاتي شوني نه وي ختم کړي اوپه افغانستان کي سوچه اسلامي حکومت نه وي حاکم شوي . وروروحکمتيارورروسته له هغه چي دجهاد ټولو شهيدانواوپه ځانګړي توګه دپکتياولايت دشهيدانوروح ته بي دعاوکړه وبي ويل چي ټول مجاهدين بايد په يوه غږاوتريوي ټوماندي لاندي دکابل په لورحرکت وکړي دکمونيزم وروستي بقاياوي چي افغانستان بي دتباهي په غاړه ودرولي ختمي کړي په دي توګه دافغانستان دتجزيي مخه ونيسي. دحزب اسلامي افغانستان مجاهدامير دخپلو خبروپه ترڅ کي وويل همدااوس هم په کابل کي اسلامي حکومت نشته ، اوس هم ددفاع وزارت اودامنيت دولتي وزارت دکمونستانوپه لاس کي دي، کمونستان هڅه کوي چي زموږاسلامي انقلاب سبوتاژکړي په کابل کي مجددي هيڅ واك نه لري ، ټول واك اواختياردکمونستانواومليشو په لاس کي دي، په کابل کي مجاهدين خلع سلاح کيږي اوپه ځاي بي کمونستانوته وسله ورکول کيږي ، چي داکار دمجاهدينولوي توهين دي . په دغي تاريخي غونډي کي چي له جلال آباد اولغمان نه وروسته دوروروحکمتيارپه وياړجوړه شوي دريمه شانداره غونډه وه اوداووزروپه شاوخواکي په کلاشينکوف اوراکټ لانچرو وسلوال مجاهدين پکي راټول شوي وودغونډي دځاي پوره
٣مخ

متن مصاحبهٔ مطبوعاتی برادرحکمتيارامیرحزب اسلامی افغانستان در شهرگرديزمرکزولايت پکتيا

پکتيا ١ سرطان
برادرحکمتيار اميرحزب اسلامي افغانستان درمورد شکستاندن تانکها وسلاحهاي ثقيله وساير تاسيسات ملي ودولتي توسط بعضي گروپهاي مجاهدين وفروش آنها در بازارهاي پاکستان بصورت آهن پاره ابراز تاثر نمودند .

ايشان درکنفرانس، عمومي درگرديز خطاب بمردم گفتند : بعضي گروپهاي مجاهدين تانکها ووسايل فعال نظامي را پرزه نموده ودر بازارهاي پاکستان به عنوان آهن پاره به قيمت خيلي نازل بفروش ميرسانند.
ايشان هنگام سفر خويش ازکابل به گرديز سه عراده لاري بزرگ حامل پرزه جات وآهن پاره ها رادر ٥٦ کيلومتري گرديز پس‌ازبازجويي که معلوم شد محموله هاي مذکور ازطريق پاراچنار وميرانشاه به بازارهاي پاکستان سرازيرميشد متوقف ساختند .
برادرحکمتيار ازمعرفي گروپهاي مجاهدين صرفنظرنموده گفتند :
سلاحها وتانکهايي که در اختياراين گروپها قراردارد اموال حکومت افغانستان بوده ، نبايد تخريب ويا فروخته شوند .ايشان تقاضا نمودند: تمام املاك ملي ودولتي نگهداري شودتاحکومت آينده افغانستان آنها را ترميم و بازسازي نمايد. . بعضي ازگروپها با انفجاريم تانکها را پارچه مي نمايند ودر بازارهاي پاکستان بفروش ميرسانند.
انجنيرگلبدين حکمتيار اميرحزب اسلامي افغانستان اظهارداشته که پاکستان درمورد اجراي موافقت نامه يي که بين رهبران مجاهدين درپشاور به امضا رسيده است ، کمتر ابراز علاقمندي مينمايد وازتعديل وامحاي آن احساس نگراني نمي دارد.
امير حزب اسلامي افغانستان ضمن پاسخ به سوالات خبرنگاران درقرارگاه البدر حزب اسلامي افغانستان گفتند :
از يکطرف شنيديم که پاکستان ازموافقت نامه پشاور پشتيباني مينمايد ، از طرف ديگرهمين مقامات مسؤل‌پاکستاني اظهارداشته اند که
ص ٤

مجددی استادربانی ته دواك سپارلونه انکاروکړ

کابل - دغبرگولي ٣١ نيټه :
له کابل نه په رارسيدلي خبرونوکي ويل شوي چي دمجددي وياندويلي چي مجددي تصميم نيولي چي دپيښوردموافقي په اساس به دقدرت واك استادرباني ته ونه سپاري . مجددي ويلي چي دي به څلورشپيته کسيزي شوري ته واك وروسپاري اونوموري شوري به دقدرت په انتقال باندي تصميم ونيسي .
خوتراوسه پوري دجمعيت اسلامي له خوا په دغه باب کومه څرګندونه نه ده شوي .
دپيښوردموافقي په اساس بايد مجددي دسرطان په اوومه له قدرت نه گوښه شي .

درگرجستان درگيري هاي نژادي شدت گرفته است

مسکو- ٣١ جوزا :
ازگرجستان يکي ديگرازجمهوري هاي سابق شوروي گزارش ازدرگيري مي رسد دراين جمهوري تجزيه طلبان اوتوپي جنوبي ميخواهند بااوتوپي شمالي که ازجمهوري هاي روسيه است متحد شده تشکيل دولت واحدي دهند .
خبرگزاري ايتارتاس گزارش ميدهدکه نيروهاي ارتش گرجستان امروز به پسلوانيا مرکز اوتوپي جنوبي حمله کرده اند. گزارشها حاکي ازآن است که سرباز هاي گرجي به همراي تانك به شهرحمله برده وواحدهاي مليشه هاراکه درغرب شهرمستقربود درهم کوبيدند اوتوپي جنوبي ازدولت روسيه تقاضاي کمك فوري کرددولت روسيه درمسکوجلسه غيرعلني براي گفتگو درباره اوضاع اوتوپي جنوبي تشکيل داد .

جبههٔ نجات اسلامی الجزایربه حکومت اخطارنموده تا قدرت رابشکل صلح آميزانتقال نمايد

الجزيره - ٣١ جوزا :
جبهه نجات اسلامي طي اطلاعيه اي اعلام کردکه اگرمقامات دولتي بطريق مسالمت آميز قدرت رامنتقل نکنند بايد منتظرانقلاب خونين باشند اعلاميه که به درهاي ورودي مساجد الجزيره نصب شده محاکمه قريب الوقوع عباس مدني رهبر جبهه رامحکوم کرده آنرا وسيله تحريك مردم خوانده است .

رهبران سياسی چکوسلواکيادرباره عملی‌کردن تجزيه اين کشورموافقه نمودند

پراك - ٣١ جوزا :
رهبران سياسي چکوسلواکي درحال گفتگو درباره راه هاي عملي کردن تجزيه اين کشوربه دوکشورجداگانه هستند . اين تصميم درمذاکره بين ورطلاف کلاوس رهبرحزب عمده چك و ولاديميرميچيارهمتاي سلواکش گرفته شد .
ولاديمير ميچيارگفت : پس ازآنکه شوراي جديد فدرال براي اولين باررروزدوشنبه تشکيل جلسه دهد دولت موقت فدرال زمينه جداکردن دوکشورورافراهم خواهدکرد . خبرنگاران درپراك ميگويند : تنظيم نحوه جدائي بسيارپيچيده ودشوارخواهدبود و احزاب ديگرمعتقداندکه دورهبرحق ندارند بين خودچگونگي جدائي راتعين کنند .
وزيرامورخارجه پرتگال ورئيس فعلي شوراي وزيران جامعه اروپائي تصميم به تجزيه چکوسلواکي رابسيارغم انگيزخوانده وگفت : اين کشورازاين تصميم پشيمان خواهد شد. هم چنان کميسرجامعه اروپائي دراموركشورهاي اروپائي غيرعضو جامعه گفت : اکنون مهم ترين مسئله اين است که چگونه
ص ٤

دبنگله ديش اعتصاب ادامه دارد

داکه - ٣١ جوزا :
بنگله ديش امروزبراي دومين روزپياپي شاهد اعتصاب است باآغاز اعتصاب امروزکه آنراگروه مخالف اعتصابيون ديروز ترتيب داده اندحرکت وسايل نقليه عمومي مختل وبسياري ازموسسات آموزشي ومراکز تجاري تعطيل شد. ترتيب دهندگان اعتصاب امروز خواستاراجراي راي محکمه درباره رئيس حزب جماعت اسلامي وتعليق فعاليت هاي اين حزب هستند .
رئيس حزب جماعت اسلامي به تازگي دريك محکمه غيررسمي به اتهام همکاري باپاکستان درجريان جنگهاي استقلال بنگله ديش محکوم به
ص ٤

دپاکستان حکومت په کراچي کي دايم کيو ايم يوشميرزندانونه پرانستي دي

اسلام آباد - دغبرگولي ٣١ نيټه :
دپاکستان حکومت دکراچي په ښارکي دايم کيوايم دسزاوورکولو زندانونه پرانيستي دي .
په دغه زندانونوکي چي دبښتو اواستيل څخه جوړشوي ديوالونه يي درلودل په چنونوکي داعدام لپاره رسي اوځنځيرونه ځوړندو.
دپاکستان دکراچي په ښارکي ددغوزندانونوسوا کول دحکومت دهغوعملياتوسره يوځاي پيل شوي کوم چي دسندپه ايالت کي دبي قانوني په مقابل کي ئي پيل کړي دي .
که څه هم پوځيان دکراچي په ښارکي گزمي کوي هغه څلورويشت ساعته بنديزچي په تگ راتگ باندي لگيدلي وودښارد‌ځينوبرخو نه لري شوي دي .
دخبرونوله مخي دايم کيوايم مشران پټ شويدي او داسي ښکاري چي دايم کيوايم باغي دلي دکراچي زياتي برخي نيولي وي، ايم کيوايم په پوځ اوحکومت تورلگولي چي دباغي گروپ چي ځان حقيقي ايم کيوايم بولي، مرسته کري .

بنام خداييکه بي اندازه مهربان ونهايت بارحم است

مقاله

مجددي درتلاش ايجاد آشوب بزرگتردرکابل

گرچه آنهايي که اندکترين بينش سياسي هم داشتند، مي فهميدندکه درگزينش مجددي براي قيادت شوراي انتقال قدرت ، چه دستهايي درکاربوده است وبارفتن او به کابل ، آينده کشوروبخصوص شهرکابل چه خواهدشد!
ولي شايد خداوند اين همه دسيسه هاوتوطيه هارارسوانموده ، ملت مجاهدافغانستان را آگاه مي ساخت که دوست راازدشمن بشناسدوبخاطرتعيين سرنوشت آينده کشورقدم مثبتي برداشته بتواند . معاهده يي که بتاريخ ٥ ثور درپشاوربرآن توافق صورت گرفت، حاکي ازآن بودکه مجددي فقط اختيارانتقال قدرت رادارد، ولي زماني که وي براي انتقال قدرت برگزيده شد،اظهاراتش ازهمان لحظات اول بيانگرايجاد يك آشوب درکشوربود .
گرچه مجددي قبلا هم اشاراتي نموده بودکه اوقدرت رابه استادرباني تفويض نخواهدکرد، ولي بتاريخ ٣١ جوزاکه يك هفته ديگرازعمراقتدارش باقي مانده بود، باصراحت کامل گفت که هيچگاه قدرت را به رباني نخواهد سپرد. بلکه اين بارامانت رابه شوراي ٦٤ نفري جهادي تحويل خواهد داد وآنهادرين مورد تصميم خواهند گرفت .
اين اظهارمجددي حرف ناگهاني نبود، بلکه تلاشهاي قبلي اونيزروشن مي ساخت که چه تصميمي دارد. مجددي امروز درراس قوتي متشکل ازپرچميها، مليشه ها وحزب وحدت قراردارد وامريکا وبرخي ازکشورهاي غلام منش نيز درركاب امريکا ميدوندوبخاطر استقرار حکومت مجددي معاونتهاي همه جانبه مينمايند واين سازشهاهنوزهم ادامه دارد .
تقرريرچميهادرپستهاي حساس نظامي باناثاركردن جنراليهاووزارتخانه هاوعضويت بخشيدن درشوراي قيادي،فقط بخاطرآن بودکه مجددي بتواند جبهه
ص ٤

دهندد سفیراحتجاج اود حضرت صاحب معذرت غوښتل

دتیري یکشنبي په ورځ وروسته له هغه چي په کابل کي دهند سفیرله خوا ، په کابل کي د هندوانو پردکانونواوکورونوباندي دځینو په اصطلاح مجاهدینو له خوا دحملو له امله دافغانستان حکومت ته احتجاج وړاندي شو، دافغانستان ددولت ممثل مجددي دهند له سفیرنه معذرت وغوښت اوپه څنګ کي یي ددي کارپړه په خپل ددفاع په وزیراحمدشاه مسعود واچوله ویي ویل دده ددفاع وزیردکابل په امنیت راوستلو کي ناکام شوي .

دغه پورتني ټولي مسئلي لکه پرهندواتو باندي حملي او تیري بیادهغه دسفیرله خوا احتجاج ، دحضرت صاحب له اړخه په دي هکله بښنه غوښتل اوبالاخره ددي ټیټي پړه پراحمدشاه مسعود وراچول ، هره یوه جلا جلا خپل ټکاردي ، هره یوه په خپل ذات کي له ځان سره نوي انکشافات لري.

دلومړي موضوع په باره کي خو به هیڅوک هم داخبره ونه کړي چي دابنه کاراویا دتحمل وړدي ، بلکي هرڅوک خصوصاً مسلمانان دخپلو اسلامي اصولو له مخي په دي باورلري چي په اسلامي دولت کي باید اقلیتونه په امن وي ، اودادولت وجیبه ده چي دخپلو ټولو اتباعو اوپه ځانګړي توګه داقلیتونو امنیت خوندي وساتي ، او هغه چاته جزا ورکړه شي چي تیري یي کړي ، دهغو هندوانو اوسکانو ځورول چي له پلارپلارنه زموږپه هیوادکي ژوند کوي ، دغندني وړدي، او دولت ته ښکاردي ددي کار فاعلینو ته جزا ورکړي اوکه داکارنشي کولاي نو لږ ترلږه خو په خوله یي وغندي ،ولي ترکومه چي څرګنده شوي دحضرت صاحب حکومت په دي باره کي څه اقدام نه کړي اونه یي توان لري ، په ځانګړي توګه چي دغه کاردهغه د حلقیانو له لوري شوي دي اوحضرت صاحب دهغه په خلاف خوله نشي پرانستلاي برخلاف دهغوتائیدکوي په شوري اوحکومت کي برخي ورکوي.

دوهم خبره دحضرت صاحب او په اصطلاح دیوه جمهور رئیس له طرفه دیوه سفیرڅخه دمعذرت غوښتنه ده . په دي کارسره حضرت صاحب نه یوازي خپل بلکي دټولو افغانانو حیثیت ته ضربه ورکړه ، اول خو دهند له حکومت څخه معذرت غوښتل ښکارنه ؤ ځکه چي په ملیونومسلمانان دهندواتو له خوا په هندکي ځورول کیږي اوپه مقدساتو یي تیري کیږي خودهند حکومت دهیڅ اسلامي هیوادڅخه معذرت اونښته نه ده غوښتي اوکه کوم چا داخبره یاده کړي نوویلي یي دي چي دازموږکورني مسئله ده اوس هم داخبره دافغانستان داخلي مسئله وه اودغه هندوان اوسکان ټول دافغانستان تبعه دي ، حضرت صاحب په ځاي ددي چي دهند له سفیرڅخه یي معذرت غوښت اودهندي مسلمانانو په زخمونو یي مالګي دوروليي ،باید پخپله دغوهندوانو اوسکانو ته یي دادورکړي واي چي امنیت به یي خوندي شي اوڅوک به بیا تیري نه پري کوي اوهغه څوک چي تیري یي کړي غندلي واي ، اوکه یي داکارنه شواي کولاي ، ښکاره ده چي نه یي شي کولاي نوبیا خویي دومره ویلاي شواي چي زه نوروله قدرت نه ګوښه کیږم څوک مي خبره نه مني ، ښکارنه ده چي نوریه نامه جمهور رئیس وم اودهر څه بدنامي په ماتمامه شي ، ولي موږ وینو چي برخلاف حضرت صاحب په چوکۍ سریښ شوي هیڅ معاهدي اوتړون ته وفادارنه دي ، اونه په دي قادردي چي امنیت راولي حتي دهغو کسانو په خلاف خوله هم نشي پرانستي چي هندوان یي ځورولي اوظلم یي پري کړیدي ځکه چي هغه پخپله دده حلیفان دي.

بیاهم که معذرت یي غوښتي نوبکاروه چي دوزارت خارجه له لاري یي داکار کړي واي ،ځان یي دیو سفیرپه وړاندي دومره نه واي ذلیل کړي چي په عاجزانه لهجه یي معذرت غوښت .

دریمه خبره داحتجاج ده ، له دغه کارڅخه باید ټول مسلمانان درس واخلي او دیته متوجه شي چي په ګڼ شمیر ملکونو کي پرمسلمانانو دظلم ژرندي کیږي ولي اسلامي نړۍ یي په هکله چوپه پاتي شوي ، په همدي هندکي هره ورځ په لسهاوومسلمانان شهیدان کیږي ، جوماتونه اونور مقدس ځایونه وړانیږي ، دمتعصبو هندوانو له خوا مسلمانان توهینیږي ،ولي اسلامي نړۍ هیڅ نه وایي له هند سره تاوده روابط لري یوهم دهند په خلاف اودمسلمانانو په پلوي احتجاج نه کوي ولي په کوم بل هیوادکي دهراقلیت پوښتنه کیږي اخطار ونه ورکول کیږي ، مسلمانانو ته ښکاردي چي همدااوس دهند حکومت ته په ګډه دااحتجاج وړاندي کړي.

چي پرمسلمانانو ظلم بندکړي ، دکشمیر مسلمانانوته حقوق ورکړي پریږدي چي خپل سرنوشت پخپله وټاکي - څلورمه خبره داده چي حضرت صاحب خپل ددفاع وزیراحمدشاه مسعود تورن کړي چي په خپل کارکي ناکام شوي اوهغه وظیفه چي دده له خوا ورته سپارل شوي وه نه ده اجراشوي ، دغه خبره که څه هم واقعیت لري چي په کابل کي امنیت نشته په هرګوټ کي دهرچا حکومت دي ، ولي دا تورلګول هغه هم په داسي وخت کي چي دحضرت صاحب پاچاهي په ختمیدو ده څه نوري انګیزي له ځان سره لري، پخوا تردي خوحضرت صاحب داخبره کوله چي امنیت تضمین دي وزیر دفاع موفق دي ولي اوس یي خپله لهجه بدله کړي.

له دي تور څخه داخبره څرګندیږي چي کیداي شي دحضرت صاحب اړیکي له مسعود سره خرابي شوي وي اوهغه فکرکوي چي دقدرت دانتقال دوخت په رسیدو سره به مسعود داستاد رباني ملاتړوکړي نوکیداي شي حضرت صاحب مسعود په همدي تورچي پخپل کارکي ناکام شوي له کاره ګوښه کړي اوپه ځاي دخپل زړه سړي چي په اغلب ګمان به دملیشوکوم قوماندان وي وګماري ، داخبره له دي څخه هم ښکاره کیږي چي حضرت صاحب ملیشوته یووزارت ورکړي اوداسي ویلي هریوچي دوي غواړي هماغه به ورته وسپاري. اودجبل السراج دموافقي په اساس چي ملیشي یي په شتومد غوښتنه کوي ددفاع وزارت دملیشو حق دي . په دي کارسره به حضرت صاحب له یوي خوادملیشي قوت دځان کړي وي اوله بل پلوه به یي خپل مخالف استادرباني اومسعود له صحني څخه ایستلي وي. ځکه هغه داخبره هم کړیده چي استاد رباني دمعاهدي نه خلاف ورزي کړي اوزما دحکومت ترڅنګ یي حکومت جوړکړي نوزه هم حاضرنه یم چي هغه ته واك وسپارم څوکه چیري مسعود پخپل ځاي پاتي شي نوداخبره کمه عملي کیداي شي.

نوپه دي حساب ښکاري چي روانه اونۍ به د ډیرو سیاسي مواقفوداعلان اونۍ وي ، اوپه ګڼ شمیر زړواونووتوافقاتو به قلم راکښل کیږي ، اوځیني به راڅرګندیږي

آخراز خدا حیا کنید

عبدالاحد "میهن یار"

دیشب لیل ۸/۹ ساعت ۹ و ۱۰ دقیقه تلویزیون پاکستان اخباري رابخش نمودمبني براینکه آقاي محمدصدیق چکري وزیراطلاعات وکلتورحکومت اسلامي مجاهدین افغانستان براي یك سفرسه روزه بصورت رسمي وارداسلام آباد گردیده ومیخواهد بامقامات وزارت اطلاعات ونشریات حکومت پاکستان قراردادهایي راعقدنماید .

منهم چون مسلکم مطبوعات است وخبرهم درمورد افغانستان بودلذاباعلاقه بیشتربه تلویزیون متوجه شدم زمانیکه تصویري ازمجلس هیأت افغاني وپاکستاني روي صفحه تلویزیون افتاددیدم دریك طرف وزیراطلاعات وکلتورحکومت اسلامي افغانستان ! یکنفرپرچمي شناخته شده آقاي سیدیعقوب وثیق معین رادیووتلویزیون نیزحضوردارند .

باورکنید نفسم بندشد، دود ازکله ام برخاست .خداباچي مي بینیم !!

آقاي وثیق پرچمي به نمایندگي ازوزارت اطلاعات وکلتورمجاهدین افغانستان به اسلام آباد آمده تاباحکومت اسلامي پاکستان قرارداد هاي فرهنگي وکلتوري راعقد نماید !!!

خدایا ! این دگرچه قسم حکومت است ؟ این آقاي چکري که همچوشخص ویااشخاصي راباخود آورده پس کیست ؟

فوراً ذهنم چندسال به عقب رفت به آن ایامیکه من به حیث مدیرعمومي ارتباط خارجه رادیوتلویزیون افغانستان کارمي کردم وآقاي وثیق رئیس رادیو افغانستان بود. بعدا زمانیکه خلقي هاوپرچمي هاي کمونست قدرت را غصب نمودند اکثریت ازبرادران مسلمان رایااضافه بست ساختند ویابه حیث عضوتنزیل دادند، که ازآن جمله مرااز مدیریت عمومي ارتباط خارجه وعبدالحمیدغبائي راازریاست افغان فلم ومسعود عباسي راازمدیریت عمومي روزنه رادیوتلویزیون برطرف نموده وجزایي همه مارا بابعضي ازدیگربرادران دریك اطاق توظیف نمودند. براي ماتقریبا هیچ کاریاپروگرامي سپرده نمي شد واضافه کاري مارانیزقطع نمودند. آقاي سیدیعقوب وثیق راازریاست رادیوبرطرف کرده وبه حیث مدیرعمومي نشرات خارجي رادیوافغانستان مقررنمودند. این زماني بودکه خلقي ها رویکاربودند ووزیراطلاعات وکلتورخیال محمدکتوازي بود .

من که عضومخفي حزب اسلامي افغانستان بودم ومسئولیت چندین وزارت خانه بشمول ریاست عمومي رادیوتلویزیون رابدوش داشتم به فعالیتهاوجلب وجذب مامورین مسلمان دردستگاه رادیوتلویزیون موظف شده بودم .

به اساس همین وظیفه نزدآقاي وثیق که سیدبوده وظاهرا آدم پاك معلوم مي شد وتاآنوقت خلقي یاپرچمي نشده بودرفته وبه احتیاط درمورد حکومت ملحدکمونست کابل وفعالیتهاي مجاهدین صحبت هاي مي نمودم . میخواستم موقف وي رامعلوم نمایم که آیامیخواهد جذب مجاهدین شده ویاآنهاکارنمایدیانه ؟

بعدازسپري شدن چندین ماه مستقیماً ازوي دعوت بعمل آوردم وبرادرش راکه دریغمان مجاهدین دستگیرنموده بودند (برادرش تبلیغات مثبت درمورد حکومت کمونست کابل مي کرد) . باوساطت حزب اسلامي آزادنمودم . آقاي وثیق باچالاکي امروز وصبامیکرد تااینکه خلقي هاازقدرت برافتاده وپرچمي هابه سرکرده گي ببرك کارمل قشون سرخ رابه افغانستان آوردند.

چندروزبعدازهجوم قشون سرخ به افغانستان واشغال رادیوتلویزیون واستقرار تانکهاوزره پوشهاي آنهادرمحوطه رادیوافغانستان مجلس بزرگي ازاهل مطبوعات ، نویسندگان ، ژورنالستان و سردبیران روزنامه هاوجراید، مامورین وپرسونل رادیووتلویزیون درتالاررادیوافغانستان دایرگردید.

ما(من وعبدالحمید غبائي مسعود عباسي، عمراکبرزاد) مانندسایرمامورین جبراً به تالاررفتیم .

بعدازیکي دوبیانیه که کمونستهاي سرشناس مثل محمودبریالي ، اناهیتاراطب زاد، ظهوررزمجووسایرکاسه لیسان وغلامان وطن فروش روسي ابراد نمودند وورود قشون سرخ رابحیث قشون صلح ودوستي !! ترجیه نموده وموجه جلوه دادند. دفعتا دیدیم که آقاي سیدیعقوب وثیق سابق رئیس رادیوافغانستان تیزروي ستیج آمده ودرمورد آمدن قشون سرخ بیانیه پرطمطراق راایرادنمود .

همه برادرانیکه درآنجانشسته بودیم به تعجب بطرف یکي دیگردیده وگفتیم این تخم هم گنده برآمد. میدانیدفعلا آن کلمات بیانیه آقاي وثیق هنوزدرگوشم باقي مانده است :" ... شمامیدانیدهرگاه خانه همسایه تان دریگیرد آیاشماسطل آبي کمك نمي نمائید؟ تاآتش خاموش شود، حالا درافغانستان هم آتش درگرفته اگرقشون سرخ بخاطرایجاد وبرقراري امنیت وبخاطرتأمین صلح به کشورهمسایه یعني افغانستان واردنمي شد حالاافغانستان ازنقشه جهان محوونابودمي گردید ...".

عینا کلمات ببرك راتحویل مان داد. همه ماسخت تعجب کردیم نمي دانستیم که وي پرچمي شده وآنهم آنقدربست، دوسه ماه بعدازایراد این بیانیه آقاي وثیق دوباره رئیس رادیو افغانستان شدوچندین بارباشخص ببرك کارمل به مسکو، آلمان شرق وغیره کشورها ي سوسیالستي سفرنموده ودرمذاکرات محرمانه اشتراك داشت .

وي که انسان چوکي پرست است بواسطه چاپلوسي ووطن فروشي توانست اعتماد پرچمي هاراجذب نموده تااینکه درزمان نجیب رژیم سابق کابل به حیث معین باصلاحیت رادیوتلویزیون مقررگردیدوتاالحال درهمین پست کارمیکند .

وي بهترین گرداننده تبلیغات علیه مجاهدین بوده ودودستگاه مهم تبلیغاتي یعني رادیووتلویزیون رژیم ملحدکابل رابه پیش مي برد .

عجیب اینجاست که وزیراطلاعات وکلتور(صدیق چکري) اینقدربي معلومات بوده ودرك ندارد که دررادیوتلویزیون کي کمونست است وکي مسلمان !!

آیامعلومات نگرفته که آقاي وثیق پرچمي به حیث معین رادیوتلویزیون ومختارژوبین به حیث رئیس تلویزیون ونبي کاوه به حیث رئیس رادیو افغانستان ایفاي وظیفه مي نماید !!

آیانزدچکري نفرکم بودویاهمه مجاهدین مسلمان وچیزفهم خداي ناخواسته مرده بودند که وي دراولین سفررسمي خویش پرچمي هاراباخود به پاکستان آورده وبه افتخاردرپهلوي خوددرمجلس مي نشاند !!!

این چگونه اعتماد است ؟ وثیق وامثال آن چگونه میتوانند از وزارت اطلاعات وکلتور حکومت اسلامي مجاهدین افغانستان که ستون فقرات دولت وحکومت آنراتشکیل میدهد نمایندگي کند ؟

حتماً آقاي چکري که اصلاً درراه مطبوعات نرفته وکوچکترین آگاهي ازمطبوعات ندارد وي (وثیق) وسایرپرچمي هاوخلقي هاوشعله یي هاراموظف خواهندساخت تاقانون آینده مطبوعات کشوراسلامي مارابنویسندوترتیب نمایند .

افسوس وصدافسوس آیا آقاي چکري درتمام وزارت اطلاعات وکلتورودرتمام گروههاي مجاهدین دوسه نفر رانیافتندتاباخود دراین سفربه پاکستان بیاوردکه ازپرچمي هاکارگرفته است ؟

حالانکه تنظیم هاي جهادي مادرطول چهارده سال بهترین ژورنالستان بهترین نویسندگان رادرخود پرورانیده است آثار دست شان مبارزات قلمي وپاك اسلامي وجهادي شان هنوززینده روزنامه ها، جرایدومجلات تنظیم هاي جهادي است که به بسیارخوبي ازعهده اینکار برآمده میتوانستند.

واقعاً آقاي چکري خوب نشان دادکه حکومت ائتلافي بابنیادوسیع !! چگونه درکابل تشکیل شده است ویاشاید وزراي سرپرست فعلي قدرت ابرازاندارندکه به پرچمي هاوخلقي هابگویندکه شماراباخودنمي بریم

عجیب است یکي تان دوستم راکه قاتل مردم افغانستان است رتبه سترجنرالي میدهیدودیگرتان به خاطرآرام وآسوده باپرچمي ها به خارج ازافغانستان سفرمي نمائید آخراگرازمردم شرم ندارید ازخداحیاکنید .

###

دطغیان اوسرکشي نتیجه نابودي ده

شمس الحق "شمس"

که داسلام سپیڅلي اوروښانه تاریخ ته نظروکړو په تحقیق سره مومړدي داومن کوي چي داسلام دمقدس الهي دین پیروان اولاروي په ټول تاریخ کي دلورعظمت ، شجاعت اوغیرت خاوندان تیرشوي اوتیریږي او دخپلو راتلونکو مسلمانو نسلونو لپاره یي دوباره دك زرین تاریخ پري ایښي دي چي نن یي مسلمانان په تیره بیا دافغانستان مومن اوفداکارولس قدم په قدم تعقیبوي اویادیي تازه ساتلي دي .

که دجاهلیت اوناپوهي ددورپیښي اوواقعات وڅیړو نویقینا مومړدي نورهم خپل باوربخبري چي حق پرباطل غالب دي اوخداي (ج) وعده په حقه اوباوري ده . هر هغه چاکه شخص دي اویاقبیله چي غیرالله (ج) لاره یي تعقیب کړي، له اسلام ، قرآن اومحمدي غراشریعت سره یي مخالفه جبهه نیولي، دسختي دښمني په وجه یي تل دناقص عقل ددرلودلوله امله داسلام اومسلمانانو دتضعیفولو کوښښونه اودسیسي په کاراچولي، نوالحمدلله په خپل شوم هدف کي یي بریالیتوب ندي موندلي، بلکه دخداي (ج) په مرسته دمسلمانانوله خواتکول شوي اوبالاخره دخپلي ټولي دبدبي اوشان وشوکت سره نابودشوي دي.

دجاهلیت په دورکي پداسي حال کي چي کوم قوم ، قبیلي یاشخص به له اسلام اواسلامي اصولو څخه طغیان اوسرکشي وکړه نودالله تعالي له طرفه به ددغومنحرفونودلارښووني اوسمي لاري ته دراوستوپه خاطرخپل استاذي یعني پیغمبران علیهم السلام رااستول ترڅوداقوم ته دخداي (ج) احکام بیان کړي . دبنه اونیکبخته قسمت خاوندان به هغه څوك و چي دالهي استاذو هدایت اولارښووني به ئي دزړه په مینه او پوره یقین سره مثلي، منافقت اوبي وعدیتوب به یي ورسره نه کاوه ، دمسلمانانو صف ته به په اخلاص اوصداقت سره داخل شول. خوافسوس دهغه چاپه حال چي دین اودنیا دواړه یي په ذلت او خواري کي تیرشول، دپنځوورځودنیوي ژوندته یي پرابدي آرام اوسوکاله ژوند باندي ترجیح ورکړه دپیغمبرانوعلیهم السلام خبري اولارښووني به یي نه مثلي، بلکه مسخري اوهسي بیځایه کیسي یي ګڼلي برخپل جاهلیت یي زیات ترکیزکاوه خودغه رنګه قومونه یاقبیلي اویااشخاص یاخودخداي (ج) له طرفه دخپلي سرکشي اوطغیان په وجه دیوسخت عذاب دنازلیدو په سبب نابودشوي اویادخداي (ج) په مرسته دمومنومسلمانانوپه لاس له منځه تللي دي .

ددارنګه جاهل اوسرکښه قوم دلارښووني لپاره دخداي (ج) له طرفه رااستول شوېو استاذوکلونه کړاونه او سختي ګاللي ترڅوداناپوه قوم دابدي بدبختي څخه نجات ومومي . دمثال په توګه حضرت نوح نبي علیه السلام نهه نیم سوه کاله دخپل سرکښه اوبدبخته قوم لپاره تبلیغ وکړ څه سختي اوتکلیفونه نه وچي دغه جناب تیرنه کړل ، خوقوم یي په جهالت کي ډوب ؤ بالاخره دخداي (ج) له خوادیوسخت توپان پواسطه له منځه یوړل شول اوبواځي نوح نبي علیه السلام اودهغه پیروانو ته یي نجات ورکړ. دغه رازدهودعلیه السلام قوم دخپلي سرکښي له امله دخداي (ج) له خوادصرصرتیزبادپواسطه له منځه یوړل شول ویل کیږي چي دغه باددومره تیزو چي بدبخته انسانان به یي یودبل سره په ککریووهل اوهلاك به شول. همدارنګه دصالح علیه السلام قوم چي دخداي (ج) داوامرو څخه به یي سرکشي کوله بالاخره دصیحه په غږسره چي دجبرائیل علیه السلام له خواپورته شو، دیرخطرناك اوتباه کوونکي غروچي داناااهله قوم ورباندي تباه شو . ابراهیم علیه السلام دبیدینه اوجاهل نمرودله لاسه څه تکلیفونه اومشقتونه تیرکړل ، دابراهیم علیه السلام نصیحتونواولارښوونو ورباندي هیڅ تاثیرنه اچاوه ، خوکله چي ابراهیم علیه السلام پدي پوره متیقین شوچي نمرود دهدایت ورندي نوخداي (ج) دغه متکبراوسرکښه مشردیوي عادي کوچني غوماشي پواسطه هلاك کړ، همدارنګه موسي علیه السلام دهغه زماني فرعون چي نعوذ بالله دخدایي دعوه یي کوله . په خپله سرکشي اوطغیان کي یي حده ګمراهي ته رسیدلي ؤ، دجاهلیت تکبر، خودخواهي اندازه یي دقیاس څخه وتلي خبره وه .

موسي علیه السلام ته به یي دساحراوکودګرخطاب کاوه خوکله چي دخداي (ج) اراده وشوه چي دغه مشرك اومتکبر فرعون له منځه یوسي نوله خپلو پیروانو سره یي په رودنیل کي غرق کړ اوموسي علیه السلام ته یي نجات ورکړ .

دحضرت سرورکائنات محمد(ص)له پیدایښت نه مخکي یوي دلي کفاروچي مشري یي ابرهه په غاړه درلوده دمسلمانانو دعبادت ځاي یعني دمکي معظمي دړنګولو لپاره دیوشمیرجنګي فیلانو اودزرونوتنو لښکریانو سره یوځاي دمکي ښارته داخل شول هرڅه تیرنګونه اوچالونه یي چي په کارواچول خودمسلمانانو دحقیقي عبادتګاه په ړنګولو بریالي نه شول اوخداي (ج) دمسلمانانوعبادتګاه دپرامن ساتلو اوداپرهه دلښکرډتارومارولو اوله منځه وړلولپاره داباییل مرغي په هواکي رالیږداکړي چي په خوله کي ئي یوه یوه تیږه نیولي وه اوداپرهه پرلښکریانوبي ورغورځولي اوپه هلاکت یي ورسول اومکه مکرمه یي ورځني ساله وژغورله، داودخداي (ج) دحق دلاروپوسره دپه داګه مرستیویوځوکوني چي قرآن اواسلامي ځلانده تاریخ موږته دعبرت اوپند اخیستولپاره پري ایښي دي .

داوسي زماني نړیوال کفري نظامونه هم غواړي چي مسلمانان تضعیف اویایي بیخي له منځه یوسي، خو لله الحمد چي تراوسه پوري هغوي هم ندي توانیدلي چي په خپلوپروګرامونوکي بري ترلاسه کړي بلکه دمسلمانانو له خوانورهم په نړیواله سطحه کي شرمیدلي اومحوه شوي دي .

تجاوزګرو روسانو غوښتل چي دافغانستان مؤمن اومسلمان هیوادوال وځپي، له منځه یي یوسي، کمونستي نظام پکي جوړکړي . خوموليدل چي خداي (ج) دافغان مؤمن ولس سره دپخوانیو حقیقي مسلمانانو په شان ، نصرت اوکمك وکړ اوپه تش لاس یي دنړي سترځواك (!)ته ماتي څه چي دځمکي له مخ څخه یي نابودکړ اوپه کابل کي یي لاسپوځي ګوډاګیان هم دسرتیرویاتورومجاهدینوپه لاس بوربیل پسي له منځه یي ، وروستي خبره همداده چي حق به خپل ځاي اشغالوي اوباطل به محوه کیږي .

په کارداده چي اوس افغان مجاهد ولس اودهغوي جهادي مشران چي دسترمجاهدحضرت محمد(ص) سنت یي وروسته له ډیروزمانوراژوندي کړي اوداافتخاریي ګټلي، له خودخواهي، تکبر، بي اتفاقي اومقام غوښتلو دناکامه هیلودرلودلوڅخه ځانونه وژغوري ، خپل جهادي اصالت خوندي وساتي دشهیدانواودهغوي دوارثانواودمجاهدملت ارمانونوته لبیك ووایي دمجاهدولس سره خپلي اړیکي ټینګي کړي ، اوکنه خداي (ج) دحقي لاري دلارویوسره دي . لدي نه آخوایانمرود، فرعون ، ابرهه ، روسانو، تره کي، ببرك، امین ، نجیب ، دوستم اونوروپلویانویي دخپلي ګمراهي نه څه ګټه اوچته کړي؟ نه . بیله دي چي تکول شوي، نابودشوي اودخداي (ج) په غضب اخته شوي نوربي هیڅ ګټه نه ده کړي اومسلمانانوته په دواړو حالتونوکي یعني په مرګ اوژوندکي خیراونیکبختي ده . که دکفارو له لاسه مړشي شهیداوکه ژوندي وي غازي بلل کیږي . ان شاء الله په افغانستان کي وروستي فتحه دافغان مجاهدولس په نصیب ده ، دښمنان به یي په هره جامه اوخیره کي چي وي رسوااونابودیږي اوپه خپل هیوادکي په دیوسوچه اسلامي حکومت خاوندان ګرځي .

###

نمایندهٔ سازمان ملل باسفیر عراق مذاکره نمود

۳۱ جوزا :

مذاکرات دیروز دونیکوپیکو نمایندهٔ سازمان ملل متحد با عبدالامیر الانباري سفیرعراق درسازمان ملل درباره چگونگي پایان دادن به تحریم نفتي این سازمان برضد بغداد مثبت بوده است . پیکودرباره موضوع این مذاکرات اظهارنظري نکرداماگفت که نتایج بدست آمده رادرپایان جلسه امروزاعلام میکند. براساس طرح شوراي امنیت سازمان ملل عراق اجازه دارد طي یك دوره.شش ماهه یکصدوشش ملیارد دالرنفت بفروشد وازآن براي تأمین اقلام طبي وغذایي مورد نیازمردم عراق ، پرداخت غرامت به کویت وتأمین بودجه هاي سازمان ملل مانند ردیابي ونابودکردن توان هسته اي کیمیاوي عراق استفاده شود .

جاپان وائي چي دسره خمرمشربايد دتوکیوپه خبروکي برخه واخلي

توکیو دغبرګولي ۳۱ نیته :

دجاپان یوحکومتي ماموروائي چي دسره خمرمشریه دکمبودیا دسولي دلرزانده جریان دبیرته راژوندي کولو له پاره دتوکیوپه خبروکي برخه واخلي .

په پارلماني چاروکي دجاپان دبهرنیوچارودوزارت معین وویل چي دکمبودیا دملي عالي شوري ټول غړي به په دي بین المللي غونډه کي ګډون کوي .

دجاپان رسمي خبري آژانس دبهرنیوچارودوزارت دیوعالي رتبه مقام داخبره تائید کړي چي دسره خمرمشریه دي کنفرانس کي برخه اخلي . په دي غونډه کي دباغیانودمشرڅه ګډون په باب هغه ویلي چي هغه به په دي غونډه کي ځکه برخه نه اخلي چي دده حضوریه

ع م

داسلامي حکومت ترجوړيدو ...

امنيت نيول شوي، په شاوخوالوروکي دهوايي دفاع راکټونه اووسلي نصب شوي و، په لسهاوټانکونه اوزرهپوشونه ولاړوو په غونډه کي دحزب اسلامي پرګڼ شمير قوماندانانو اومجاهدينوسربېره دنوروجهادي تنظيمونو مجاهدين اوقوماندانان هم موجودوو. اوهغو مشرانوچي دغونډي برخوالوته وېناوي واورولي په هغوکي دحزب اسلامي دپکتياولايت دجهادامير وروراګنجنيرفيض محمد ، داتحاد اسلامي دسيدکرم ولسوالي قوماندان مديرسيدرحمت الله اودمحاذملي قوماندان محمو داود دمحاذملي اسلامي قوماندانان ملك عبدالرحمن

اوعلم ګل، دوزيرستان دجهاد امير اودفقيراف ايپي زوي حاجي شيرمحمد، دمولوي جلال الدين حقاني ټماينده حاجي ولي ميرمحمد اودپکتياولايت دعلماووټماينده مولوي غوث الدين هم شامل وو ټولومشرانودخپلو خبروپه ترڅ کي دحزب اسلامي له دريځ څخه ملاتړاعلان

کړاودکمونستانودبقاياوپه ضديي دوروحکمتياردجهاد ددوام تائيدوکړ

وروروحکمتياردخپلو خبروپه ترڅ کي په ١٤ کلن جهادکي دپکتيا

دخلکودشهامتونه يادونه وکړه هيله يي څرګنده کړه چي دخپلو صفوفوپه منظمولوسره به دهيواد دساليت اوارضي ټماميت په ساتنه کي خپل تاريخي رول ولوبوي .

وروروحکمتيارووېل زه ددي لپاره راغلي يم چي تاسي ترېوه واحد قيادت لاندي متحدشي اووسله واخلي دکابل په لورپرمختګ وکړي، دکمونيزم دپاتي شونوپه ضدوجنګيږي ترڅوهيوادوتجزيي له خطرنه وساتل شي، هغه ووېل موږددي لپاره جهادپيل کړي ووچي دکمونيزم ريښي وباسو، لاسپوڅي حکومت ختم کړو، انارشي له منځه يوسو او اسلامي حکومت قايم کړو، ولي تراوسه داهدفونه نه دي ترلاسه شوي، په کابل کي دلوټارانواوکمونستانوحکومت دي، دمليشوله لاسه دهيچاسر، مال او ناموس خوندي نه دي، په کابل کي موجودمشران دمليشو له خوابرغمل نيول شوي دي .

وروروحکمتيار ووېل، موږ١٤کاله دهجرت ستونزي اوکړاوونه او١٫٥ مليونه شهيدان په دي خاطرنه دي ورکړي چي هلته له کمونستانوسره ګډحکومت جوړشي .

همدااوس په کابل کي ددفاع وزارت اودامنيت وزارت دکمونستانوپه اختيارکي دي اوډبېرک کارمل له

خوارهشابي کېږي ، هغه ووېل ددي موجوده وضعي اصلي مسئولين ببرك کارمل اونجيب دي چي خلك يي قتل عام کړل اوهيوادبي غيرمستحکم کړيدي هغه ووېل دنجيب اوببرك دسرنوشت په هکله بايد عوام فيصله وکړي هغوي بايد محاکمه شي .

دحزب اسلامي مجاهداميردخپلو خبروپه بوه برخه کي دصبغت الله په وروستيو څرګندونواو دپيښوردمعاهدي څخه په سرغړونه او دواك دانتقال څخه په انکارسخت انتقا دوکړ، زياته يي کړه مجددي هغوچاته مدالونه اورتبي ورکړي چي زيارباسي په شمال کي مستقل حکومت جوړکړي اوافغانستان په شمال اوجنوب وويشي هغه ووېل په کابل کي وضع ډېره کړکيچنه ده دقيادي شوري جوړيدل مشکل دي اوهغه پريکړي چي قيادي شوري کړيدي هغه يوه هم نه ده عملي شوي، دمجددي حکومت هيڅ واك او اختيارنه لري، وروروحکمتيار ووېل هغه څوك چي دمنتخب اسلامي حکومت مخالفت کوي اصلا هغه دعواموله حمايي څخه محروم دي .

وروروحکمتيار دخپلو خبروپه بوه برخه کي له خلکوڅخه پوښتنه وکړه چي په داسي صورت کي چي

وسلوال کمونستان په کابل کي حکومت جوړوي آياموږ خپلي وسلي په ځمکه کيږدو؟ آياپه شمال کي مستقل حکومت په رسميت وپيژنو؟ آياددي دواړو په وړاندي له جنګ پرته بله لاره شته ؟ په ځواب کي خلکوپه شوراوځوږسره لاسونه پورته کړل اودحزب اسلامي ددريځ

